دانترنیټ دفارسی سرچینوڅخه

ژباړونکی ؛ عزیزاحمد خوارمل

# ناټو« NATO »
# او
# دناټو« NATO » پیژندنه !



## لمړی برخه

### سریزه :

ناټویوبین الحکومتی سازمان دی چې (۲۶) شپږویشت غړی هیوادونه یې خپلې بشپړې ملی واکمنی لري،دناټوټولې پریکړې دغړیوهیوادونوترمنځ دګډ نظراودګډلړلید پربنسټ باندی په ګډه سره رامنځته کیږی .

ددغه سازمان دریځ اوبنسټیزه دندی دتړون دمندرجوموادوسره سم دا دی ، چې دسیاسی اوپوځی وسیلوپه کاره ولوسره دخپلوغړیوهیوادونودآزادی اودامنیت ساتل دیوی منظم پلان دمخی ددندواودوظایفو په سرلیک کې درج کړی اوترکار لاندی ونیسی .

ناټوددموکراسی،شخصي آزادیو،دقانون دواکمنې اودشخړوسولیزه حل په اړه دغړیو هیوادونودارزښتونوساتنه کوي اوداروپا اواتلانتیک په ټوله سیمه کښې دغه ارزښتونه پیاوړی کوي .

دناټودپریکړیوترټوله مهمه مرجع اومقام داتلانتیک شورا ده چې دسفیرانو،وزیرانواویا ددولتی اوحکومتی مشرانو په کچه د(۲۶) شپږویشتومتحده هیوادونواستازی په کښې کې ګډون لري .

ناټو« NATO » یو واکمن پوځي تړون دی چې د جوړښت فلسفه یې د هغه عکس العمل په نتیجه کې رامنځته شوه چې هغه ته یې دپخواني شوروي اتحاد له خواتهدید وایه . دناټو« » NATOڅلور مخفف توری یعنی دشمالی اتلانتیک دسازمان انګلیسی نوم (North Atlantic Treaty Organization)نورد اتلانتیک ټریټی اورګانیزیشن دی چې اوس مهال دشمالی امریکا اوداروپا دهیوادونوڅخه (۲۶) شپږویشت هیوادونه ددی نظامی تړون غړیتوب لري .

دناټو (NATO)دنظامی سازمان غړی د :اسپانیا، استونیا، اسلوواکی، اسلوونی، انګلیس، ایتالیا، ایسلند، المان، امریکا، بیلجیم ، بلغاریا، پرتګال، ترکیه، دچک جمهوریت ، ډنمارک، رومانیا،

فرانسه، کانادا، لتواني‌ا، لوکزامبورگ، پولنډ، لیتوانی، مجارستان (هنگری )، ناروي ، هالنډ اود یونان دهیوادونوڅخه عبارت دي .

ناټو(NATO) هغه نظامی سازمان دی چې ورروسته ددوهمی نړیوالی جګړی څخه دشمالی اتلانتیک دتړون دنظامی دندودترسره کولو دپاره په (۱۹۴۹) میلادی کال کې جوړ اورامنځته سو. ددوهمی نړیوالی جګړی وروسته په لمړیوکالنوکې په ختیځ اومرکزی اروپایي هیوادونوکښي دپخوانی شوروی اتحاد دپراختیا غوښتنی په وړاندی د(۱۹۴۸) میلادی کال دمارس په میاشت کې دپنځوهیوادونو انګلیس، فرانسی، بیلجیم ، هالنډ او دلوکزامبورګ په ګډون اوغړیتوب سره دبروکسیل دمعاهدی په امضا کولوسره دتولیزی دفاع اتحادیه جوړه اورامنځته سوه. وروسته دهغه نه دغه غړي هیوادونه دډنما رك، ایسلند، ایتالیا، ناروي او دپرتګال دهیوادونوڅخه هم ودی نظامی سازمان ته دګډون اوغړیتوب دپاره بلنه وکړه اودغه هیوادونه یې ومنل ،بل خل بیا ددوومیاشتونه وروسته دکاناډا او دامریکاهیوادونه هم ددی نظامی تړون غړیتوب یې ترلاسه کړاودتولوهیوادونوپه ګډون سره د(۱۹۴۹) میلادی کال داپریل په میاشت کې دشمالی اتلانتیک تړون په واشینګتن کې امضا اولاس لیک سو او**دناټــو**« NATO » نظامی سازمان جوړ اورامنځته سو .

**دناټوفوځي جوړښت دګډهیوادیز ځواکونوپلانول،سازمان ورکولواودقوماندی نظام دی ،دغه جـــوړښت دناټودستراتیژیـستوقـومانداناونوترقوماندې لاندې په ګډه دپلان جوړه ولو،روزني،**

**تمرینونواوعملیاتو زمینه برابره وي .**

**دناټــو**« NATO » دنظامی سازمان زړه دهغه ددندواودوظایفودترسره کولو اودمخته بیولودمقرری اوبنستیزوموادوڅخه (۵)پنځمه ماده ده چې په هغه کې لاسلیک کوونکی هیوادونه په ټولیــز ډول سره منلــی دی که پرکوم اروپایي اویاپرکوم دشمالی امریکا پرهــریــو

غړی هیواداویا پرڅوغړیوهیوادونو باندی دنورو هیوادونولخوا بریداویرغل رامنځته سی نو دغه بریداویرغل به پرټولوغړووهیوادونوباندی وګڼل سی اوغړی هیوادونه دی دتړون دلاسلیک سویواسنادو داحکامواوپریکړومطابق ټوله په ګډه سره ددی برید اویرغل په وړاندی ودریږي .

دشمالی اتلانتیک دتړون د (۹) نهمی ماده پربنسټ **دناټــو**« NATO » دنظامی سازمان دپاره نظامی اومدنی څانګی په نظر کې نیولی سوی دی . **دناټــو**« NATO » **دپریکړیوترټوله مهمه** لمړنی**مرجع اومقام** دشمالی**اتلانتیک** د شورا **سیاسی مشرتابه** ده **چې** دغړي هیوادونوددفاع وزارت دوزیرانو څخه جوړسوی دی چې **حد اقل** **په هردووکالنوکښي یوځل غونډه کوي** اودغه شورا **دناټــو**« NATO» په نظامی سازمان کې لوړترینه دپریکړومرجع اومقام دی اوپریکړی یې په ټولیزډول اودغړیوپه ټولورایواوهوډسره صورت مومی اورامنځته کیږی اوهمدارنګه کله،کله **دسفیرانو،دبهرنی چارودوزیرانواویا ددولتی اوحکومتی مشرانو په کچه هم د(۲۶) شپږویشتومتحده هیوادونواستازی داړینوموضوعاتواومسائلودحل دپاره ددی نظامی سازمان په نوموړی شورا کښي ګډون کوي .**

ترهغه ځایه چې**دناټــو**« NATO » نظامی سازمان دپخواني شورروی اتحاد اودوارسا دنظامی تـــړون دګـــواښونوپه وړانــدی جــوړسوی او رامنځته ســـوی وو ددی سازمان دپاره دنظامی قـــومـــاندانـــی یو کامل اوهراړخیز سیستم دکیدونکی جګړی دپاره چې دغړووهیوادونو داردو دځـــواکونودستردرستیزدرئیسانواوددرو(۳)ځـایونودقوماندانانولکه داروپایی ځـــواکونـــود

قوماندان،د اقیانوس اطلس دځواکونو دقوماندان اودانګلیسی ځواکونودقوماندان په ګډون سره په نظرکې نیول سوي دي .

**په (۲۰۰۲) میلادی کال کې په پراګ کې دناټوپه سرمشریزه غونډه کې ،متحدینودنوې کولو یوبهیر په دی نیت پیل کړچې ناټو وکولای سی دیوویشتمې پیړۍ دګواښونوسره په اغیزمنه توګه مقابله وکړي دابهیرپه (۲۰۰۴) میلادی کال کې داستانبول په سرمشریزه غونډه کښې لانورهم پیاوړی سو .ځرنګه چې دګواښونوماهیت په بدلېدو دی .دسولې دساتلولاري چارې هم بدلیږي ناټودنن ورځې دګواښونوپه وړاندې خپلې وړتیاوې دسره سمبالوی . داتلواله وخپلوځواکونوته سمون ورکوې اودترهګرۍ ناکامه دولتونواودنوروامنیتی ګواښونوپه وړاندې ،لکه دډلیزی وراني وسلیوپه وړاندې دمقابلې اومخا مخ کیدو دپاره نوې ګڼ هیوادیزی لارې چارې غوره کوې او دنویوګواښونوپه وړاندی ،تلواله نوې عملیات اوماموریتونه پیلوې په افغانستان کې دثبات ټینګول،دعراق سره مرسته ،دمدیترانی په سیمه کښې دترهګروپه وړاندی دامنیت اوثبات ساتنه اودسودان د دارفورپه سیمه کښې دسولی ،امنیت اوثبات په راوستلوکې دافریقایی اتحادیې سره مرسته کول اوسمهال ددی سازمان بنسټیزی کړنی اواساسی دندی ګڼل کیږی .**

**دناټــو«** NATO » لومړ نی دکار ځای اودقوماندی مرکز په فرانسی کښې وو او وروسته دهغه څخه په (۱۹۶۶) میلادی کال کې کله چې جنرال دوګول پردغه نظامی تړون باندی دامریکا واکداری یې ولید ددی تړون څخه ووتی او ددی تړون دکار ځای او دقوماندی مرکز دبیلجیم وپلازمینی بروکسیل ته انتقال سو .

امریکاد**ناټــو«**NATO » په چوکات او جوړښت کې کابو(۳۰۰۰۰) درسوه زره تنه نظامیان لري اودپخوانی شوروی دګواښونو اویرغلونو دمخ نیوی دپاره په المان (جرمنی )کې او په نورو اروپایی لویدیزو هیوادونوکښې یې خپل اټومی اوهستوی وسلی یې هم ځای پرځای کړی دي چې دشوروی دړنګیدواودسړی جګړی دپای ته رسیدو وروسته د **ناټــو«** NATO » دتړون شته والی هم دیونظامی سازمان په توګه تر پوښتنی لاندی راغلی دی او**ناټــو«** NATO » قرار قرار په دی پسی دی چې ونوروسیموته هم خپل واک وغزوي .که څه هم دشوروی ړنګیدل اوپه (۱۹۹۰) میلادی کال کې دلویدیزاوختیځ المان ددووهیوادونویوځای کیدل ددی سبب سو چې د **ناټــو«** NATO » نقش اورول تر پوښتنی لاندی راسی اما ددی سازمان غړی هیوادونه **ناټــو«** NATO » ته دیو مرکز په ورکولواودیوسیاسی سازمان په توګه هغه دنړیوالې سولې اوثبات درامنځته کیدوخاوندبولی اوله همدی کبله په اروپاکې دهغه دپراختیاپه لټه پسی راوتلی دی . **اودهغوهیوادونوسره چې دناټوغړي نه دي خبراتری اومرستی دسړی جګړی دپېر(مهال) داختلافونوپه لیری کولواودناټودپولوورهاخواته دامنیت اوثبات په غزولوکې مرسته کوي .**

په (۱۹۴۹) میلادی کال کې **دناټــو«** NATO » دنظامی سازمان دجوړیدووروسته د(۱۲) ددولسو هیوادونوپه غړیتوب سره قرار قرار دهیوادونوغړیتوب زیاتوالی یې پیدا کړ،یونان اوترکیه هم په (۱۹۵۲) میلادی کال کې ،المان (جرمنی )په (۱۹۵۵) میلادی کال کې ، اسپانیا په (۱۹۸۲) م کال کې ،اودچک جمهوریت ،مجارستان (هنګری) اوپولند په (۱۹۹۹) میلادی کال کې **دناټــو«** » NATOدنظامی سازمان غړیتوب یې ترلاسه کړ .

همدارنګه په وروستی پړاوکې ددی نظامی سازمان پراختیا په (۲۰۰۴) میلادی کال کې دختیځ پرلور دبلغاریا،استونی ،لتونی ،لتوانی ،رومانیا،اسلواکی اواسلوونی په غړیتوب اوګډون سره **دناټــو«** » NATO دنظامی سازمان دغړی هیوادونوشمیر و(۲۶) وشپږویشت هیوادونوته ورسیدل اوپراختیایی وموندل .

سربیره پردی **دناټــو«** NATO » نظامی سازمان اوس مهال دجګړی په چوکاټ کې دتروریزم په وړاندی په مبارزی اوجګړی کې په دی پسی،اوپه دی لټه کې دی چې دنړی په ټولوسیموکښې دهغه جملی څخه په افغانستان اوعراق کې خپل ځواکونه یې ځای پرځای کړی دی .اودترکیی

دهیواddاستانبول په ښارکې **دناټـــو**« NATO » دغړو هیوادونود اولسمی (۱۷می) سرمشریزی غونډی په بیانی کښې ټینګار وسوچې وافغانستان ته نورډېرځواکونه ولیږل سی اوپه همدی ډول دعراق دنظامی ځواکونوزده کړي هم ، **دناټــو**« NATO » په وسیله سره دیوی نوي لړلیدښکارندوي دی . **ناټوپه بوسنیا اوکوسوکې دخونړیوجګړویودبنده ولوسره مرسته کړی اودپخوانی یوګسلاویادمقدونیا په جمهوریت کې یې دیوې کورنۍ جګړی مخه ونیوله،همدااوس دناټوتر مشرۍ اوترقوماندی لاندې ځواکونه په کوسوا،افغانستان ،عراق اودارفورکې دامنیت اودثبات په رامنخته کولوکې مرسته کوي /**

(نوربیا،په دوهمه برخه کې ادامه لري)

اخیځلیک :
دایسنا نیوز څخه